Article

# Legal Translation in Pashto Language: Problems and the Way Forward

**Kardan Journal of Law**
**1 (1) 96–111**
**©2019 Kardan University**
**Kardan Publications**
**Kabul, Afghanistan**
**DOI: 10.31841/KJL.2021.5**
https://kardan.edu.af/Research/kardan_journal_of_law.aspx

**Asadullah Waheedi**

## Abstract

*A trend of translating legal texts into Pashto is on the rise in Afghanistan. However, the standard of such translations is not up to the mark. Sometimes, a word by word, literal translation is produced, which fails to communicate main concept of the original work, while other times, syntactic and grammatical problems are evident. This paper looks into major reasons for such bad translations, and finds out that translations are mostly done through online platforms or by translators that are not well versed with the original and the target languages. The paper proposes that only legal experts with appropriate writing skills, understanding of the original language and standards of legal translation should undertake legal translations.*

**Keywords:** *Translation, Translator, Original Language, Target Language, Text*

**Mr. Asadullah Waheedi** *is Senior Teaching Assistant* (Pohanmal) *at Kabul University.*

# د حقوقي متن ژباړه: ستونزې او حللارې

پوهنمل اسدالله وحیدي

## لنډیز

*پښتو ته د نورو برخو تر څنګ په حقوقي برخه کې هم ژباړه کېږي. که ووایو چې په پښتو کې لویه برخه حقوقي متون ژباړه ده، مبالغه به مو نه وي کړې. په دې ژباړه کې ډېرې ستونزې دي. کله یکې مفهوم سم نه وي لېږدول شوی او متن چې په مبدا ژبه کې یوه معنا لري، په پښتو کې یې معنا بدله شوې وي. کله بیا داسې وي چې ژبه یې ستونزې لري، ژبني او ګرامري اصول نه وي یکې مراعات شوي او جوړښت یې د پښتو ژبې په شان نه وي. دا مقاله د دې ستونزې لاملونه څېړي او مومي چې یا خو هغه حقوقپوهان ژباړه کوي چې پر ژبه نه پوهېږي، یا هم هغه کسان ژباړه کوي چې پر ژبه پوهیږي، خو پر حقوقو نه پوهېږي. آن داسې ژباړې هم شته چې ژباړن یې نه حقوق پوه دی او نه هم پر ژبه پوه. مقاله کې وړاندیز شوی دی چې ژباړه باید هغه حقوقپوهان وکړي چې معیاري ژبې د لیکلو وړتیا او په اصلي او موخیزه ژبه واک لري ځکه حقوقي ژباړه ځانګړي اصول او قواعد لري چې یو ژباړن باید پرې پوه شي.*

**کیلي:** *پښتو ژباړه، حقوقي ژباړه، مبدا ژبه، موخنه ژبه، متن.*

**پوهنمل اسدالله وحیدي**، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

## سریزه

په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته چې څه ډول په نورو برخو کې ژباړه ډېره شوې ده، همداسې په حقوقي برخه کې هم ډېره ژباړه شوې ده. سلگونه قوانین، مقررات، لایحې او نور حقوقي متنونه جوړ شوي، خو لویه برخه یې ژباړه ده. ژباړه سخت او مسلکي کار دی او بیا د حقوقي متن ژباړه لا سخته ده. له یوه اړخه مونږ د ژباړې په برخه کې ستونزې لرو، ډېر ژباړونکي مو مسلکي نه دي او د ژباړې پر تیورۍ او اصولو نه پوهېږي، له بله اړخه د حقوقي متن د ژباړې لپاره نه مسلکي افراد لرو او نه هم په دې برخه کې کوم لارښود شته. د حقوقي متن د ژباړې لپاره پر دواړو ژبو، د ژباړې پر تیورۍ او حقوقي پوهې سربېره، پکار ده چې ژباړن د حقوقي متن د ژباړې پر اصولو هم پوه شي.

داسې متنونه هم شته چې له لوستو وروسته یې په اسانۍ ویلی شو چې دا متنونه هغو کسانو ژباړلي چې نه پر ژبه سم پوهېدل او نه یې حقوقي پوهه لرله. کله کله داسې هم کېږي چې د ژباړې لپاره له الکترونیکي ژباړونکو، لکه گوگل ژباړونکي، گټه پورته کېږي چې بیخي معنا نه ورکوي. دغه ډول ژباړې بې روحه او بې معنا الفاظ وړاندې کوي. له همدې امله ډېر ژباړل شوي حقوقي متنونه یا خو هېڅ معنا نه لري، یا یې هم معنا هغه څه نه ده چې په اصلي متن کې ده او یا هم متن خپلمنځي تناقض او ټکر لري. د حقوقي متن ژباړه سخته ده او د سمې ژباړې لپاره یې پکار ده چې ژباړن هم ژبنۍ او هم حقوقي پوهه ولري.

د حقوقي متن د ژباړې اصول مونږ پر دوو برخو وېشلی شو. یو یې عمومي اصول دي چې په هره ژباړه کې پکارېږي او یو یې هم د حقوقي ژبې ځانگړي اصول دي. مونږ دلته د ژباړې پر ټولو عمومي اصولو بحث نه کوو، بلکې یوازې پر هغو عمومي او ځانگړو اصولو تمرکز کوو چې د حقوقي ژباړې لپاره اړین دي. د حقوقي ژبې ځانگړنې څه دي او په حقوقي ژباړه کې باید کومو ټکو او اصولو ته پام وشي؟ په دې لیکنه کې پر همدې موضوع بحث کوو.

## ۲- د پښتو حقوقي متونو ستونزې

په پښتو کې حقوقي متون ډېرې ستونزې لري، په ځانګړې ډول هغه متون چې ژباړل شوي وي. په ځینو ځایونو کې دا متون هېڅ معنا نه لري، په ځیني ځایونو کې یې معنا هغه څه نه وي چې په لومړۍ ژبه کې وي. له دې امله چې په پښتو کې حقوقي متن ډېر کم لیکل کېږي او ډېر ژباړل کېږي، نو له ستونزو ډک وي. دا ستونزې د دې سبب شوې دي چې کله کله لوستونکي پر حقوقي متن هېڅ پوه نه شي، یا هم ترې بل ډول تعبیر واخلي او هغه څه چې د لیکوال موخه ده پاتې شي. له بله اړخه دا ډول متونونه د دې سبب هم شوې دي چې پښتو ژبې ته زیان ورسېږي. د قوانینو او حقوقي متنونو ناسمه ژباړه د دې سبب شوې چې ډېر قاضي صاحبان او څارنوالان پښتو متن هېڅ ونه کاروي. له همدې امله پښتو نه په څارنوالۍ کې شته او نه هم په محکمه او نورو عدلي او قضایي ارګانونو کې. آن په پښتون مېشته سیمو کې هم قاضي صاحبان او څارنوالان خپل متنونه په دري لیکي او پښتو یې هېره کړې ده.

دلته په پښتو حقوقي متونو کې د تېروتنو او ستونزو یو څو بېلګې راوړو. د عدالت د نړیوالې محکمې د اساسنامې ۱۴مه ماده پښتو ته داسې ژباړل شوې ده:

> د خالي شوکیو ډکول ددغه ترتیب د رعایت په قیدولو سره په هماغه طریقې سره ترسره کېږي چې چې لومړي ځل ټاکنو ته مقرر شوي دي. د ملګرو ملتونو سرمنشي باید د شوکیو په خالي کېدو سره د یوې میاشتې په جریان کې د پنځمې مادې له مقرراتو سره سم بلنه پلې کړي او د ټاکنو نېټه به د امنیت شورا لخوا وټاکل شي.[۱]

مونږ دا متن درې ځله ولوست. دا متن لیکنۍ تېروتنې لري، یعنی ژباړونکی یې پر ژبه مسلط نه دی، د جملو جوړښت، د کلمو غوراوی او ترکیبونه یې ستونزې لري او په پایله کې د دې متن لویه برخه بې معنا شوې ده او هغه څه نه رسوي چې په موخنه ژبه[۲] کې یې یادونه شوې ده. دلته ځیني ترکیبونه راوړي لکه؛ ( د رعایت په قیدولو) رعایت څنګه قیدیږي؟ دا هېڅ معنا

---

۱ صفی الله ناصري، *د ملګرو ملتونو منشور ( ژباړه)* (کابل: اکسوس کتابپلورنځی، ۱۳۹۷)، ۴۷.

۲ هغه ژبه چې ورته ژباړه کېږي.

نه لري او ټول متن ته یې زیان رسولی دی. بل وایي؛ ( په هماغه طریقې سره ترسره کېږي چې په لومړي ځل ټاکنو مقرر شوي دي). دلته مطلب دا دی چې هغمه طریقه کارول کېږي چې په لومړي ځل ټاکنو کې کارول شوې ده، خو لیکوال ټکی پر ټکي ژباړه کړې ده چې متن ته یې زیان اړولی دی. یا د ( پلي) کولو پر ځای ( پلې) راغلی چې بیخي متفاوتې معناوې لري. همداسې دا ماده او د دې متن نورې مادې هم ډېرې تېروتنې لري.

د دې ډول ژباړې اصلي لامل دا دی چې لیکوال که څه هم حقوق لوستي او پرې پوهېږي، خو له پښتو ژبې او متن سره یې اړیکه کمزورې ده. د جملو په کارولو، د کلمو په غوراوي او دغه راز د مفهوم په رسولو کې ستونزه لري. له بله اړخه ژباړن پر کلمو تمرکز کړی، خو جملو او مفهوم ته یې زیان رسولی دی. دا سمه ده چې په حقوقي متن کې کلمې مهمې دي، خو باید د جملو جوړښت او د مفهوم لېږد ته هم پام وشي.

تر څو د دې مادې اصلي معنا درک شي او لوستونکي لا ښه قضاوت وکړلی شي چې د اصلي او ژباړل شوي متن ترمنځ څومره توپیر دی، دلته د دې مادې اصلي متن چې په انګلیسي ژبه دی، راوړو:

> Article 14: Vacancies shall be filled by the same method as that laid down for the first election, subject to the following provision: the Secretary-General shall, within one month of the occurrence of the vacancy, proceed to issue the invitations provided for in Article 5, and the date of the election shall be fixed by the Security Council.[3]

زموږ حقوقي متون له داسې ستونزو ډک دي. آن له دري ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوي متون ستونزې لري. د بېلګې په توګه دلته د جزا قانون دوه سوه اوومه ماده کټ مټ، او پرته لدې چې املا، انشا، ژبه او د لیکنې څرنګوالی یې سم کړو، را اخلو:

[3] ۱۴مه ماده، د عدالت د نړیوالې محکمې اساسنامه. برېښنایي پته: <https://treaties.un.org/doc/publication/ctc/uncharter.pdf> (وکتل شو: ۲۰۱۹.۱۲.۱۱).

۱- که شخص د قوي په استعمال تهدید یا دهشت اچولو د دولت رئیس د داسي عمل په اجراء کولو مجبور کي چه قانونا ئې صلاحیت لري یایي د هغی څخه په منع راوړلو په جبر مجبور کی په دوام لرونکی حبس محکومیږی.

۲- که د پورتنی فقري درج شوی جرم د دولت د رکنونو په یو رئیس یا د حکومت او یا دپار لمان په یوه غړي وشی، ارتکاب کوونکي په اوږده حبس محکومیږي."[٤]

د جزا قانون کې دا ماده په تصادفي ډول انتخاب شوې ده خو یوازې دا ماده یې ستونزه نه لري. د دې قانون پښتو متن سر تر پایه همداسې دی. حیرانوونکې ده چې زمونږ یو مهم قانون چې پر اساس یې هره ورځ په ټول افغانستان کې محکمې حکمونه صادروي، له داسې ژبنیو تېروتنو ډک دی. دلته متن یو مخ غلط دی او ستونزې یې ډېرې جدي دي. دلته تېروتنه یوازې د یاګانو یا لیکنښو نه ده، بلکې د دې متن لیکوال یا ژباړونکی د پښتو ژبې پر ابتدایي اصولو هم نه پوهېږي. نو چې کله زمونږ دومره مهم او بنسټیز قانون دغه ډول ژبه ولري، نور قوانین به حتمي ستونزې لري.

پوښتنه دا ده چې په پښتون مېشتو سیمو کې به قاضي صاحبان له دې متن څخه څه ډول استفاده کوي او بیا به یې پر اساس څه ډول حکم کوي؟ ښایي همدا متن د دې سبب شوی وي چې کله کله په پښتون مېشته سیمو کې هم قاضي صاحبان خپل حکمونه پر پښتو نه لیکي او آن د قانون هغه مادې په دري لولي چې پر اساس یې حکم صادروي. بلخوا بیا تورن د قوانینو پر اساس حق لري چې د قاضي پر حکم او دلایلو پوه شي، خو چې قاضي په پښتون مېشته سیمو کې خپل صادر کړی حکم په دري ژبه ولولي، نو تورن پوه نه شي چې ولې او د قانون د کومو مواد پر اساس محکوم شو. په دې ډول پښتو ته د حقوقي متن ناسمې ژباړې د ژبې تر څنګ د قانون حاکمیت او عدالت ته هم زیان رسولی دی.

## ۳- بدیل موندنه

ژباړه اصلاً د ژبې د مفهوم او معنا اړول دي، نه د ظاهري جوړښت، کلمو، جملو او نورو ژبنیو توکونو. له همدې امله په ژباړه کې پر دې تمرکز کېږي چې مفهوم ته په موخنه ژبه کې

---

[٤] ۲۰۷مه ماده، د افغانستان د جزا قانون.

بدیل ژبه پیدا شي. همدا چاره سمه او د معنا پر محور څرخېدونکې ژباړه له ټکی پر ټکي ژباړې څخه جلا کوي. "په دې اصل کې تمرکز پر دې وي چې ژباړن په مبدا ژبه[۵] کې پر اصلي مفهوم ځان سم پوه کړي او بیا هڅه وکړي چې د بیان لپاره یې په خپله ژبه کې بدیلې کلمې، اصطلاحات او جملې پیدا کړي".[٦] د دې لپاره اړینه ده چې ژباړن د مبدا ژبې پر متن ځان پوه کړي او پر متن د پوهې لپاره د هغه متن پر سیاق و سباق یا چاپیریال (Context) پوهې ته اړتیا ده.

## ۳-۱ له بې بدیله کلمې سره چلند

په هره ژباړه کې داسې کېږي چې مونږ د مبدا ژبې لپاره وړ بدیل پیدا نه کړو، خو په حقوقي ژباړه کې دا ستونزه ډېره پېښیږي. د حقوقي ژباړې پر مهال ډېر داسې اصطلاحات او کلمې مخ ته راځي چې په موخنه ژبه کې یې بدیل نه وي، نو د حقوقي متن ژباړن باید پوه شي چې دا ستونزه څنګه حل کړي. دلته درې لارې دي:

لومړۍ حللاره دا ده چې مونږ د مبدا ژبې لغت په پښتو تلفظ ولیکو او بیا یې تشریح کړو. مثلاً که مونږ د برېټانیا حقوقي متون ژباړو نو ښایي مونږ له (Trust) کلمې سره مخ شو. د دې لپاره چې د برېټانیا حقوقي نظام کامن لا او زمونږ رومي- جرمن دی، نو مونږ دې کلمې ته بدیل نه لرو. اوس دا ستونزه په لومړۍ لاره داسې حل کوو: "ټرسټ: د انګلستان په حقوقي نظام کې دې ته ویل کېږي چې یو څوک خپل مال بل چا ته ورکړي او هغه بیا د دغه مال ګټه درېیم کس ته ورکړي".[۷]

د مبدا ژبې د کلمې پر ځای د پښتو کلمې یا ترکیب کارول، خو له تشریح سره، دویمه حللاره ده. مثلاً که له همدغه (Trust) کلمې سره مخ شو، نو لیکو "د درېیم په ګټه دویم ته د مال

[۵] هغه ژبه چې ورڅخه ژباړه کېږي.
[٦] اجمل ښکلی، *د ژباړې اصول* (جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳)، ۴۳.
[7] Douglas Robinson, *Becoming A translator* (London: Routledge, 2003), 76.

لېږد: د انګلستان په حقوقي نظام کې دې ته ویل کېږي چې یو څوک خپل مال بل چا ته ورکړي او هغه بیا د دغه مال ګټه درېیم کس ته ورکړي".[۸]

درېیمه لار له تشریح پرته په یوه جمله یا ترکیب د کلمې ژباړه ده. مثلاً همدا (Trust) کېدای شي مونږ ولیکو "د باور پر اساس د درېیم په ګټه دویم ته د مال لېږد".[۹]

څنګه چې "د حقوقو په برخه کې دا خبره بیا بیا کېږي چې حقوقي اصطلاحات ځانګړې معنا لري، او له عامې ژبې سره ډېر توپیر لري، نو پکار ده چې ورته پام وشي"،[۱۰] پر همدې اساس غوره لار همدا ده چې لومړنۍ طریقه وکارول شي. لامل یې دا دی که چا ته پوښتنه هم پیدا کېږي، نو اصلي کلمه پیدا او په اړه یې نورو سرچینو ته مراجعه کولی شي. ښایي دا ډول چلند په ژبه کې د پردیو کلمو د زیاتېدو سبب شي، خو که په دویمه او درېیمه لار دا کار ونه شو، نو ښه ده چې لومړۍ لاره وکاروو. په (Trust) کې هم دویمې او درېیمې لارې سمې نه ښکاري، نو ځکه لومړۍ لاره کاروو، خو په ځینو نورو کلماتو او اصطلاحاتو کې ښایي دویمه یا درېیمه لاره وکارول شي.

## ۴- د حقوقي مخففاتو ژباړه

په انګلیسي کې مخففات ډېر کارول کېږي، خو مونږ یې په پښتو کې کم کاروو. په حقوقي متونو کې هم کله کله اصطلاحات کارول کېږي. د دې لپاره چې مونږ پر هغه نوم، یا اصطلاح سم پوه شو، نو پکار ده چې په پښتو کې یې بشپړ نوم ولیکل شي. مثلاً: (ICJ) ښه ده چې مونږ ولیکو: ( د عدالت نړیواله محکمه). ځیني ژباړونکي او لیکوال په پښتو کې هم انګلیسي مخففات کاروي. که دا مخففات عام شوي وي، لکه؛ (NATO) ناټو یا دې ته ورته نور، ستونزه نشته، خو که عام نه وي، پکار ده چې پوره نوم ولیکل شي. لکه: ( ICC) د جزا نړیواله محکمه.

---

8 Susan Sarcevic, "Legal Translation and Translation Theory: A Receiver Oriented Approach", *Meta* (2014), 63.

9 *Ibid.*, 72.

۱۰ عبیدالله اخوندزاده، *نړیوال عمومي حقوق* (کابل: اکسوس کتابپلورنځی، ۱۳۹۵)، ٥٦.

## ۵- د ژبې جوړښت ته پام

په حقوقي متن کې کلمې او مفهوم مهم دي، خو ډېر کله ژباړن پر کلمو او مفهوم د ټينګار لپاره د موخنې يا دويمې ژبې جوړښت هېروي. دوی د ژباړې پر مهال له مفهوم او کلمې سره د ژبې جوړښت هم دويمې ژبې ته راوړي. دا چاره د موخنې ژبې ملا ماتوي او يوه ستونزه ده. په حقوقي متنونو کې دا ستونزه ډېره ليدل کېږي. اصل دا دی چې "په ژباړه کې يوازې د مفهوم ژبه بدلېږي، مفهوم نه بدلېږي، نو د ژبې له بدلون سره بايد د دويمې ژبې د جوړښت پر اساس ژباړه وشي. مونږ اړ نه يو چې د لومړنۍ يا مبدا ژبې جوړښت هم وساتو".[۱۱]

د پام وړ ده چې هره ژبه ځانګړی جوړښت لري. د ترکيبونو له جوړښت څخه واخله، بيا د جملو او د ژبې تر عمومي جوړښت پورې، هره ژبه له نورو هغو سره څه نا څه توپير لري. مثلاً په پښتو کې لومړی فاعل، بيا فعل او بيا مفعول راځي، خو په عربي کې بيا لومړی فاعل، بيا مفعول او بيا فعل راځي. يا په اضافي ترکيب کې په دري ژبه کې لومړی مضاف راځي او بيا مضاف اليه، خو په پښتو کې لومړی د اضافت توری، بيا مضاف اليه او بيا مضاف راځي. تر دې ساده مثال په دري کې لومړی د سال (کال) کلمه راځي او بيا نېټه (در سال ۱۳۹۳...) خو په پښتو کې لومړی نېټه راځي او بيا د کال کلمه (په ۱۳۹۳ کال کې). همداسې په يوه ژبه کې له اسم سره يو ډول فعل راځي، خو له همدې اسم سره په بله ژبه کې بل ډول فعل راځي. مثلاً په پښتو کې وايو "لمونځ کوم" خو په دري کې بيا وايو "نماز ميخوانم"، نو که په پښتو کې ووايو چې لمونځ لولم، دا بيخي بله معنا لري. په دې ډول د ژبو جوړښت توپير لري او پکار ده هر ژباړن، په ځانګړي ډول بيا د حقوقي متن ژباړن چې تمرکز يې پر کلمو وي، دې چارې ته پام وکړي.

## ٦- فرهنګي پوهه

د غوره ژباړن يوه ځانګړنه دا ده چې په مبدا او موخنه ژبه کې فرهنګي پوهه ولري. دا پوهه د هر ډول ژباړې لپاره پکارېږي، خو د حقوقي ژباړې لپاره خورا اړينه ده. د ژباړې پوهان پر دې

---

[۱۱] انتونی پیم، *اصول اخلاقي ترجمه* (تهران: انتشارات خاور، ۱۳۸۸)، ۸۷.

ټينګار کوي چې فرهنګي پوهه د ژباړې لپاره اړينه ده ځکه چې "ژبه له فرهنګ سره غوټه ده، که مونږ فرهنګي پوهه نه لرو خو ژباړه کوو، نو دا له اصلي متن سره ظلم دی".[۱۲]

اوس له دې امله چې حقوق له فرهنګ سره ژوره اړيکه لري او آن حقوق ژوره فرهنګي رېښه لري، نو ځکه يې د ژباړې پر مهال پر فرهنګ پوره پوهې ته اړتيا ليدل کېږي. که فرهنګي پوهه نه وي، لومړی پر مبدا ژبه کې پر حقوقي متن پوهېدل ستونزمن وي او دويم يې په موخنه ژبه کې ژباړه او بديل پيدا کول ژباړن له خنډ سره مخ کوي.

## ۷- د مبدا ژبې پر حقوقي نظام پوهه

د حقوقي ژباړې لپاره اړينه ده چې ژباړن د مبدا ژبې پر حقوقي نظام پوه شي. يا ښه ده چې ووايو، ژباړن ته پکار ده چې پوه شي د مبدا ژبې متن د کوم حقوقي نظام په رڼا کې ليکل شوی دی. ژباړن بايد پوه شي چې د کوم هېواد حقوقي متن چې ژباړي، هغه رومي-جرمن او که کامن لا سيستم دی. نه يوازې بايد پر دې پوه شي چې کوم سيستم دی، بلکې بايد د هغه سيستم، د سيستم د اصطلاحاتو او څرنګوالي په تړاو پوره معلومات ولري.

د حقوقي متن ژباړن بايد پر دې سربېره د حقوقي متن پر سرچينو او رېښو هم پوه شي. ځکه حقوقي متن پر يادو شوو سيستمونو سربېره ديني، مذهبي، فرهنګي، دوديزې او نورې رېښې او سرچينې لري. د حقوقي ژباړې پر مهال ډېر موارد داسې را مخ ته کېږي چې د مبدا ژبې له دين، فرهنګ، دود، حقوقي رويې او نورو ارزښتونو سره ژوره اړيکه لري او يا يې هم همدا سرچينې وي. که ژباړن د مبدا ژبې پر فرهنګ، دين، دودونو او ارزښتونو پوه نه شي، نو پر متن پوهېدل ورته سخت دي او بيا بديل پيدا کول نور هم ورته ستونزمنېږي.

د بېلګې په ډول: "(Equity) چې لغوي ژباړه يې (انصاف) يا (تساوي) کېږي. اوس انصاف په برېتانيا کې يو ځانګړی مفهوم لري چې له کامن لا حقوقي سيستم سره غوټه شوی دی. اوس که مونږ د برېتانيا له حقوقي متنونو څخه ژباړه کوو نو (Equity) ته د انصاف کلمه کاروو، چې ستونزه پيدا کوي. ځکه چې انصاف په کامن لا سيستم او برېتانوي حقوقي متنونو

[۱۲] محمد نور محمدي، *فنون عملی ترجمه* (تهران: انتشارات طليعه پويش، ۱۳۹۳)، ۲۰۷.

کې یوه ځانګړې معنا لري او هغه انصاف سره ډېر توپیر لري چې مونږ یې په خپل حقوقي او مذهبي – حقوقي سیستم کې لرو.[۱۳] دلته ژباړن ته پکار ده چې د برېټانیا په حقوقي نظام کې پر (Equity) پوه شي، په کامن لا سیستم کې یې تعریف وپېژني او بیا یې موخنې ژبې ته وژباړي. دلته ښایي بدیل کلمه ولیکل شي، خو له یوه داسې تعریف او تشریح سره چې اصلي معنا ولېږدوي.

سربېره پر دې، د قوانینو پر سرچینو پوهه هم ډېره مهمه ده. مثلاً زمونږ د قوانینو یوه اساسي سرچینه دین دی. اوس که څوک زمونږ متون ژباړي نو پر دین پوهه ورته حتمي ده، ځکه چې زمونږ قوانین ژوره دیني رېښه لري. کله چې مونږ د نکاح او طلاق بحث کوو، ډېر مسایل یوازې په اسلام کې دي او په نورو قوانینو کې په دغه شکل نشته. د بېلګې په توګه، طلاق څه وخت واقع کېږي، څو ډوله طلاق دی، طلاق د چا له خوا وي او څه وخت بېرته رجوع ممکنه ده او څه وخت د رجوع حق له منځه ځي؟ یا بل مثال، موقتي محرمات، هغه دي چې تر یوه وخته ورسره نکاح ترل کیدای نه شي، "تر څو چې ښځه ژوندۍ وي او یا طلاقه شوې نه وي، مېړه له خپلې ښینې، د ښځې له خاله، عمه، ورېرې او خورځې سره نکاح نه شي کولای. دې ته موقتي محرمات وایي، خو کله چې ښځه مړه شي او یا هم طلاقه شي، نو بیا هغه وخت دا تحریم ختمېږي او نکاح ورسره جواز لري".[۱٤] پر دې مسایلو پوهه هغه وخت ممکنه ده چې یو فرد د اسلام په اصولو پوه شي.

## ۸- د موخنې ژبې پر حقوقي نظام پوهه

د حقوقي متن د ژباړې لپاره دا هم خورا مهمه ده چې مونږ د موخنې ژبې حقوقي نظام وپېژنو. دغه راز د موخنې ژبې د حقوقو پر سرچینو او رېښو پوه شو. د ژباړې پوهان وایي چې ژباړن باید د مبدا ژبې په پرتله پر موخنه ژبه لا زیات پوه شي. دا خبره د حقوقي متن په ژباړه کې هم صدق کوي. دلته هم باید ژباړن د مبدا ژبې د حقوقو، حقوقي نظام، سرچینو او رېښو په پرتله د موخنې ژبې پر هغو ډېر پوه شي.

---

[13] Sarcevic, Legal Translation and Translation Theory, 65.

[۱٤] محمد نادر ایوبي، *حقوق* (لاهور: صحاف نشراتي موسسه، ۲۰۱۳)، ۲۰٦.

## ۹- د حقوقي نظامونو پر توپیرونو پوهه

د حقوقي متن ژباړن باید د حقوقي نظامونو پر توپیرونو پوه وي. دغه راز، باید بلد وي چې د پام وړ حقوقي نظامونو کې د اصطلاحاتو او مفاهیمو توپیرونه څه دي. د دوی پر ورته والي او توپیرونو باید پوه شي او د ژباړې پر مهال ترې ګټه واخلي.

### ۹-۱ پر فرعي قوانینو پوهه

د حقوقي متنونو په ژباړه کې ډېر وخت له فرعي قوانینو یا فرعي بحثونو سره مخ کېږو. فرعي قوانین او حقوق د اصلي او اساسي متنونو او حقوقو په پېژندلو کې مرسته کوي، له همدې امله ژباړن ته پکار ده چې د مبدا ژبې پر فرعي قوانینو هم پوه شي.

### ۹-۲ پر نړیوالو حقوقي متونو پوهه

کله کله حقوقي متن چې ژباړن ورسره مخ کېږي، د کوم هېواد په قوانینو پورې نه وي تړلی او نړیوال یا عام حقوقي متن وي. دلته ژباړن ته د هېوادونو پر حقوقي سیستمونو د پوهې اړتیا نشته، بلکې پکار ده چې هغه پر نړیوالو قوانینو پوه وي او یا هم د نړیوالو حقوقو پر فلسفه پوه وي. د بېلګې په ډول، که ژباړن د حقوقو د فلسفې په اړه یو متن ژباړي، یا هم د نړیوالې سوداګرۍ قوانین او یا هم دې ته ورته کوم بل نړیوال حقوقي سند ژباړي، په دغو حالاتو کې د هېوادونو پر حقوقي متونو پوهې ته اړتیا نشته، بلکې پکار ده چې ژباړن په اړونده برخه کې تخصصي پوهه ولري.

## ۱۰- د کلمو د عامو او ځانګړو معناوو توپیر

که څه هم کلمې بېلابېلې معناوې لري، خو پر دې سربېره ځینې کلمې عامې او ځانګړې معناوې هم لري. ځینې کلمې چې عامې معناوې لري، په حقوقي متونو کې ځانګړې معنا لري. دغه راز ځینې کلمې مونږ په عامه ژبه کې کاروو، خو په حقوقي سیستم کې کوم تعریف نه لري. دغه راز ځیني کلمې مونږ په خپل عرفي حقوقي سیستم کې کاروو، خو زمونږ په رسمي حقوقي نظام کې معنا نه لري. د بېلګې په ډول، مونږ په خپل عرف کې جرګه لرو. کله چې جرګه د یو چا په اړه پرېکړه کوي، نو یو کس (پړ) ګڼي او جریمه کوي یې. اوس پړ د

مجرم معادل کلمه ده، خو زمونږ په رسمي حقوقي نظام کې نشته او نه ده تعریف شوې. له همدې امله مونږ (پړ) په عامه ژبه او عرفي حقوقي سیستم کې کاروو، خو په رسمي حقوقي سیستم کې یې نه کاروو. دغه راز مونږ په عادي ژبه کې د مجرم او خاین کلمې کاروو، خو عامې او ناتعریف شوې معناوې لري، خو کله چې مونږ خپل د جزا قانون گورو، نو هلته جرم ځانګړی تعریف او ډولونه لري او جنایت ځانګړی تعریف.

پر همدې اساس د حقوقي متن ژباړن باید د کلمو پر عامو او خاصو حقوقي معناوو پوه شي او د کارولو پر وخت یې ځان ډاډمن کړي چې د کلمې عامه معنا یې د خاصې معنا پر وخت نه ده کارولې. دا پوهه هم په مبدا ژبه کې پکار ده او هم په موخنه ژبه کې ورته اړتیا لیدل کېږي. د کلمو د عامو او خاصو معناوو توپیر په ژباړه کې اساسي بحث دی، چې کله کله همدا چاره ژباړن تر ګړنګونو غورځوي. له همدې امله پکار ده چې ژباړن ځانګړې پاملرنه وکړي.

## ۱۱- د حقوقي متن پر بېلابېلو تعبیرونو پوهه

د حقوقي متن یوه ځانګړنه دا وي چې ډېر وخت ترې څو ډوله تعبیرونه کېدلی شي. یا کله په قانون کې ابهام وي او یوه کلمه له یوې ډېرې معناوې لري. ډېر وخت ژباړن له متن څخه یو تعبیر اخلي او همغه لیکي، په دې ډول د نورو تعبیرونو شونتیا له منځه ځي. دلته بنایي هغه تعبیر ناسم وي چې ژباړن ترې اخیستی دی، نو پکار ده چې متن همداسې وژباړل شي چې څو تعبیرونه ترې واخیستل شي. که متن یوازې یوه معنا لرله او یو تعبیر ترې اخیستل کېده، نو پکار ده چې همداسې وژباړل شي چې یو تعبیر ترې واخیستل شي او که یې څو تعبیرونه لرل، پکار ده چې همداسې وژباړل شي چې څو تعبیرونه ترې واخیستل شي. له بله اړخه کله په قانون کې ګونګوالی وي، ژباړن ته پکار ده چې د ژباړې پر مهال همدا ګونګوالی وساتي، ځکه چې د قانون د ګونګوالي له منځه وړل او تفسیر د ژباړن دنده نه ده. که په قانون کې ګونګوالی وي، ژباړن یې باید همغسې وساتي او ځان ته د تعبیر او تفسیر حق ور نه کړي. د بېلګې په ډول د افغانستان د اساسي قانون ٦١مې مادې دویمه فقره را اخلو چې "د جمهور رییس وظیفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسیږي" چې

په دري ژبه داسې لیکل شوی: "وظیفه رئیس جمهور در اول جوزای سال پنجم بعد از انتخابات پایان می یابد".

اوس دلته ماته معلومه نه ده چې لومړی پښتو متن لیکل شوی او بیا دري ته ژباړل شوی او که لومړی دري لیکل شوی او بیا پښتو ته ژباړل شوی او یا هم لومړی انګلیسي لیکل شوی او بیا پښتو او دري ته ژباړل شوی دی، خو په پښتو او دري دواړو کې ابهام او یا د څو تعبیرونو شونتیا ساتل شوې ده او سمه ده.

د دې مادې په اړه دوه تعبیرونه دي. لومړی دا چې د ولسمشر دنده د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ پای ته رسېږي او ټاکنې باید ترې مخکې وشي. اوس که ټاکنې ترې مخکې نه کېږي، بیا هم د ولسمشر دنده ختمېږي او د واک دوام یې قانوني مشروعیت نه لري. خو دویم تعبیر دا دی چې د ولسمشر دنده د جوزا په لومړۍ پای ته رسېږي، خو تر دې مخکې باید ټاکنې وشي، که نه نو د ولسمشر دنده نه ختمېږي او باید واک ته دوام ورکړي. دا بحث له تېرو ولسمشریزو ټاکنو مخکې هغه وخت ګرم و چې د ولسمشر دنده د سترې محکمې د پرېکړې پر اساس وغځول شوه. اوس دلته کوم تعبیر سم دی او کوم ناسم؟ دا د ژباړن دنده نه ده چې پرېکړه وکړي او د ژباړې پر مهال دا ابهام او یا څو تعبیرونه له منځه یوسي، بلکې دنده یې ده چې همدا ابهام یا څو تعبیرونه په ژباړه کې وساتي.

## ۱۲- له قاموسونو د ګټې اخیستلو هنر

د حقوقي ژباړې پر مهال یوه ستره تېروتنه دا ده چې عام قاموسونه کارول کېږي. اصلاً د قاموسونو کارول هنر دی. د قاموس کارونې په اړه د جولیان هواس وایي چې په ژباړه کې د قاموس کارونې هنر مهم دی. ځیني کسان عام قاموسونه کاروي، ځیني آن ګوګل ټرانسلېټ کاروي، خو د ژباړې لپاره اصلي او تخصصي قاموسونه باید وکارول شي.[۱۵]

حقوقي ژبه ځانګړې ژبه ده چې کلمې او اصطلاحات پکې ځانګړې معناوې لري، له همدې امله پکار ده چې د حقوقي ژباړې پر مهال تخصصي حقوقي قاموسونه او د حقوقي

---

[۱۵] جولیان هاوس، *مقدمه ی بر مطالعات زبان او ترجمه* (مترجم: علی بهرامی) (تهران: انتشارات رهنما، ۱۳۸۸)، ۵۴.

اصطلاحاتو قاموسونه وکارول شي. که څه هم په پښتو کې مونږ په دې برخه کې ستونزه لرو، خو که په خپله ژبه کې داسې قاموسونه نشته، پکار ده چې د مبدا ژبې تخصصي تشریحي قاموسونه وکارول شي.

یوه بله چاره چې په دې برخه کې خورا مهمه ده، هغه دا ده چې تخصصي قاموسونه هم باید د هغه هېواد وي چېرته چې متن لیکل شوی، ځکه چې حقوقي نظامونه توپیر کوي، نو ورسره اصطلاحات او معناوې هم توپیر کوي. د بېلګې په ډول مونږ په انګلیسي کې د (Attorney General) مثال ورکوو چې په برېټانیا کې یوه او په امریکا کې بله معنا لري. که مونږ له انګلیسي حقوقي متن ژباړو، نو که متن امریکایي وي، پکار ده چې امریکایي حقوقي تشریحي قاموسونه لکه (Black's Law Dictionary) وکاروو. دا قاموس د امریکایي حقوقي متن لپاره غوره قاموس دی. همداسې بیا که کله له برېټانوي حقوقي متونو ژباړه کوو، نو پکار ده چې (Collins Dictionary of Law) وکاروو، ځکه همدا د برېټانوي حقوقي نظام او حقوقي اصطلاحاتو لپاره لیکل شوی قاموس دی.

## پایله

د حقوقي متن ژباړه خورا سخت او ستونزمن کار دی، چې له بده مرغه په دې برخه کې په پښتو کې هېڅ ډول معلومات نشته. د حقوقي متن ژباړه اصلاً د حقوقپوهانو کار دی، خو حقوقپوهان باید پر ژبه، لیکوالۍ او د ژباړې پر اصولو پوه شي چې بیا حقوقي متن وژباړي. زمونږ حقوقي متونه له پراخو ستونزو ډک دي. لامل یې دا دی چې ډېر کله حقوقپوهانو ژباړه کړې، خو پر ژبه او د ژباړې پر اصولو برلاسي نه و. همداسې کله هغو کسانو ژباړه کړې چې پر ژبه او ژباړه پوهېږي، خو پر حقوقي متن او د حقوقي ژباړې پر اصولو نه پوهېږي. له همدې امله زمونږ په هغو حقوقي متونو کې چې له نورو ژبو ژباړل شوي، ډېرې ستونزې دي.

د حقوقي متن د ژباړې لپاره پکار ده چې یو څوک لومړی باید پر حقوقو پوه شي او بیا د لیکوالۍ تر څنګ د ژباړې او حقوقي ژباړې پر اصولو پوه وي. د بدیل موندلو هنر، د مبدا ژبې پر حقوقي نظام پوهه، د موخنې ژبې پر حقوقي نظام پوهه، پر نړیوالو قوانینو پوهه، پر

فرعي قوانینو پوهه، د قوانینو د سرچینو پېژندنه، پر ژبه او لیکوالۍ برلاسیتوب، د کلمو پر بېلابېلو معناوو پوهه، په ژباړه کې د ابهام او څو تعبیرونو ساتل او بالاخره له مناسبو حقوقي متونو ګټه اخیستل هغه څه دي چې د حقوقي متون ژباړن یې باید ولري. که ژباړن پر دغو چارو پوه شي، نو داسې ژباړه به وکړي چې هم د حقوقي متن معنا په ښه ډول ولېږدول شي او هم ژبه خرابه نه شي، خو که ژباړن پر دغو چارو پوه نه وي، نو نه یوازې حقوقي متن به خپله معنا ونه ساتي، بلکې ژبې ته به هم زیان ورسوي.